# صورت حال جلسه عمومی مشرانوجرگه

# مورخ ۲۳ جدی ۱۳۹۷ هجری شمسی

**فضل هادی مسلم یار:** سناتورصاحبانو خویندو او وروڼوتول سترې مشئ سهارمو نیکمرغه، منشي صاحب آجنډا قرائت کړئ.

**استاد محمدطیب عطا:** یونی د ۱۳۹۷ کال د مرغومي دمیاشتې ۲۳مه نیټه.

آجنډا

دقرآن کریم د ځومبارکو آیتونو تلاوت.

دملي سرود خپرول.

۱- آزاد بحث د نصاب تربشپړیدو پورې.

۲- دافغانستان داسلامي جمهوري دولت او دسویس د فدرالي شورا ترمنځ په پرمختیایي چوکاټ کې د تخنیکي ،مالي،او بشري مرستودهوکړه لیک په هکله خبرې اترې.

۳- د افغانستان داسلامي جمهوري دولت او دعراق دجمهوري دولت ترمنځ دهوایي هوکړه لیک په تړاو خبرې اترې.

دعائیه او دنن ورځې د غونډې د پایته رسیدو اعلام.

**داکترمحمدفیصل سمیع:** یکشنبه ۲۳ماه جدی سال ۱۳۹۷

آجندا

تلاوت آیات چند از کلام الله مجید.

پخش سرود ملی.

۱- بحث آزاد الی تکمیل نصاب.

۲- بحث روی موافقتنامه چهارچوب انکشافی میان دولت جمهوري اسلامي افغانستان وشورای فدرالی سویس پیرامون مساعدت های تخنیکی،همکاري های مالی وکمک های بشری.

۳- بحث روی موافقت نامه هوایی میان جمهوری اسلامی افغانستان ودولت جمهوری عراق.

دعائیه واعلام ختم جلسه امروزی.

درابتدا آیات چندی از قرآن کریم تلاوت وبعدا سرود ملی دولت جمهوری اسلامی افغانستان پخش گردید.

آزاد بحث

**سید صفی الله هاشمی:** ازتدابیراتخاذشده وزارت داخله حمایت می کنم امیدوارم که این اقدامات نمایشي نباشند قانون باید یکسان بالای تمامی اتباع کشور یکسان تطبیق شود.ازوزیرصاحب اموراداخله خواهش می کنم که باالذات درراس بورد تعیینات قرار بگیرند وبرای اعضای شورای ملی هم اجازه ندهد که در تقرر وتبدل افسران وزارت داخله نقش بازی کنند.

اظهارات وزارت خارجه ایران را غیرمسئولانه میدانم جنگ های استخباراتی را کنار بگذارند ،کشورهای همسایه حقوق بشری،حقوق مدنی و حقوق همسایگی افغانستان را در نظرداشته باشد وصرف درجستجوی منافع خود نباشند بل منافع مردم مارا نیز درنظر داشته باشند.

**بازمحمدزرمتي:**ځينو دولتونه د طالبانو سره دخپلو اغراضو په خاطر اړيکې نيسي لکه ايران چې پخوا يې طالبانو ته وسلې ورکولې له طالبانو سره يې اړيکې درلودې اوس غواړي چې زموږ سوله هم ايران وکړي او برخې هم ايران تقسيموي دا بې پرې هيواد نه دی.

روسيه چې زموږ پخوانی دښمنه ده غوښتل يې چې دلته يو کمونيستي رژيم حاکم کړي په دې وروسيتو کلونو کې يې مخالفينو ته وسلې هم ورکولې اوس غواړي چې زموږ او مخالفينو ترمنځ سوله وکړي همدارنګه پاکستان زموږ په هيواد کې دجنګ فتوی ورکړه اوس به ځنګه زموږ ګټې په پام کې ونيسي.بايد دافغانستان په چارو کې دنورو هيوادونو دلاس وهنې مخه ونيول شي ځکه دا ډول کار زموږ دهيواد په ګټه نه ده. آمريکا خو په قضيه کې دخيل هيواد دی هغه کولی شي له طالبانو سره داسې خبرې وکړي چې په افغانستان کې تل پاته سوله ټينګه شي او دآمريکا او ناټو د پوځونو وتلو ته لار هواره کړي.

**ډاکټرمحمدآجان منګل:**دټولو هغو هيوادونو دهلوځلو ملاتړ کوو چې زموږ په هيواد کې يې د سولې په ټراو کوي خو هيله موداده چې دا هلې ځلې بې غرضه او بې پرې وي او دتل پاتې سولې سره مرسته وکړي.

**نظرمحمد فقيري:**افغانستان يو خپلواک هيواد دی هيچاته اجازه نشته چې د افغانستان په کورنيو چارو کې لاس وهنه وکړي.په کارخو داوه چې روسيه باندې د جګړې د تاوان د پريکولو دعوی شوی وای.

د داوودزي سفر ان شاالله پاکستان ته ګټور ثابتيږي،داسيمه ييزه اجماع به په پاکستان کې جوړيږي.د سولې په تړاو دافغانستان دحکومت له هلوځلو ملاتړکوم هيله لرم چې دا هڅې دتل پاتې سولې سره مرسته وکړي.

**نبيه مصطفی زاده:**ناامنی درشمال زياد شده خصوصا شهراه ها خيلی ناامن اندتلفات نيروهای امنيتی دفاعی زياد شده است.اگر توجه صورت نگيرد امنيت ولايت جوزجان هم بدتراز امروز خواهد شد توجه هيئت محترم اداری مجلس را درزمينه خواهانم.مخالفين قادرشدند به تعداد ۲۰ عراده وسايط باربری مردم را با خود ببرند.

**رحمت الله اڅکزی:**داسدالله خالد پرضد دبشردحقونو څخه دسرغړونې تورونه پورې شول دا په داسې حال کې ده چې نوموړی تازه د دفاع د وزير په حيث مقرر شو.موږ له ګاونډيو هيوادونو او ټولو نړيوالو موسساتو څخه هيله کوو چې له موږ سره په متقابل درناوي چلند وکړي.

دايراني چارواکو غيرمسئولانه څرګندونې په کلکه غندم ځکه هغوی حق نه لري زموږ په کورنيو

چارو کې لاس وهنه وکړي،روسیه هم په عین وخت کې هڅه کوي چې زموږ په کورنیو چارو کې لاس وهنه وکړي لکه چې ویلي یې دي د ولسي جرګې دټاکنو ځنډېدل د آمریکا د لاس وهنې پایله ده.

موږ له ولسمشراو اجرائیه رئیس څخه هیله لرو چې د کورنیو چارو دوزیرد هلوځلو ملاتړ وکړي چې نوموړي قادر شي مجرمین ونیسي.

**طيبه زاهدي:**من هم حرف های اڅکزی راتایید می کنم باید وزیران دفاع وداخله که پلان های خوبی برای تامین امنیت درکشور دارند حمایت شوندمتاسفم که اسدالله خالد ازطرف حقوق بشربه عنوان شخصی یاد شد که ناقض حقوق بشراست باید این اظهارات را قبل ازاینکه به این مقام برسد می کردند حالی ما فکرمی کنیم که این اظهارات بخاطر بدنام ساختن جناب اسدالله خالد است.

تلاش های داودزی صاحب برای تامین صلح قابل ستایش است وی تلاش دارد که اجماع علمای دینی کشورهای افغانستان وپاکستان برای مردود دانستن جنگ روان افغانستان دایرشود.

**ډاکټرمحمدعثمان رحماني:** د داودزي صاحب د هلو ځلو ملاتړ کوو،ان شاالله سوله راتلونکې ده، ولس ته په کارده چې یوموټې و اوسي که یووالي ونه لرو خدای مکړه د تیرپه شان به له بدبختیو سره مخ شو.

**ګل احمداعظمی:**دسولې په راتلو کې د ګاونډیو هیوادونو مرستې ته اړیو خو نباید داسې هڅه وکړي چې یوعینیت باندې سترګې پټې کړي او د افغانستان حکومت دسولې له مذاکراتو څخه ګوښې کړي.زه د افغانستان بهرنۍ ډیپلوماسي ناتوانه بولم.دسولې ملي اجماع،منطقوي اونړیواله اجماع یوه اړتیاده باید حکومت په دې برخه کې فعاله ډیپلوماسي اختیارکړي.

دعدلیې وزارت دغه کړنه دستایلو ده چې په لسګونه هغه ټولنیزبنسټونه یې لغو کړل چې دقانون خلاف یې فعالیت کول همداشان دې د ګوندونو په وړاندې هم ګام پورته کړي هغه ګوندونه چې ملي نه دي په شلو ولایتونو کې دفعالیت دفترونلري، قومي دي یا ټوپکسالاران پکې راټول شوي دي له قانون سره سم یې باید لغو اعلان کړي.

**محمدحنیف حنفي:**دافغانستان حکومت باید خپله ډیپلوماسي لا فعاله کړي ګاونډیو هیوادونو،اسلامي هیوادونو او ملګرو هیوادونو ته قناعت ورکړي چې مذاکرات باید بین الافغاني شي له دې پرته سوله نشي راتلی.

زما په اند دکورنیو چارو وزارت لخوا دمجرمینو لست باید اعلان شوی نه وای.

**امان الله عظیمی:** ګاونډیان دلته بربنډه لاس وهنه کوي نړیوال سازمانونه هم داسې حرکات کوي چې هغه هم لاس وهنه ګڼل کیدای شي لکه د اسدالله خالد په ټراو دبشري حقونو دسازمان څرګندونې لس کاله وړاندې هغه بې دندې وو اوس چې د دفاع وزیرشو نو بیا داسې څرګندونې دهغه پرضد کیږي چې ګویا د بشري حقونو ناقض دی.

بل جناب وزیرصاحب موږ د پکتیاولایت د زرمت ولسوالي ته سفر وکړ دارالانشا د هغه رپوټ د پکتیا له چارواکو وغواړي.په هغه پیښه کې قوماندان نعیم فاروقي او دهغه بچیان ووژل شول.

بل جناب رئیس صاحب یوشمیرخلکو لاریونونه وکړل، دپولیسو پوستې یې وسوځولې، پولیس یې ټپیان کړل له هغو سره هیڅ قانوني چلند ونشو خو هغه خلک چې ددې ملک چوپړ کوي هغوی دتورو تمبو شاته په زندانو کې پراته دي، مشرانو جرګې پریکړه کړې ده چې ټول مجرمین ونیول شي او قانون په ټولو یوشان تطبیق شي، حکومت دیوبام دوه هوا چلند کوي دیوقوم خلک نیسي اودبل قوم جنایت کاران نه نیسي او که یې ونیسي بیرته یې خوشې کوي دکورنیوچارو وزارت او دملي امنیت لوی ریاست قانون یوازې په یو قوم تطبیقیږي.

دکورنیو چارو له وزیرڅخه هیله کوم چې مجرمین ونیسي او دهیڅچا په فرمایش یې بیرته خوشې نکړي.

**مولوی عبدالله قرلق:** وزارت داخله به عوض نشرلست مجرمین باید اقدام گرفتاری می کردنداول باید موقعیت شان را تثبیت وبعد درعمل برق آسا وغافلگرانه آنها را دستگیرمی کردند.پولیس باید تجهیز شوند،تشکیل شان وسیع گردد ودرسراسر کشور با مجرمین برخورد جدی نماید.

وزارت داخله هدایت داده است که بغیراز محافظین اراکین ارگان های دفاعی وامنیتی سایربادیگاردان باید در داخل سیت های موترباشند ودر بادی موترها حمل نمایند ولی گاهی نیاز پیدا می شود که محافظین در بادی باشند.این امرهم باید بالای همگی یکسان تطبیق شود.

هرگونه مذاکرات وتصمیم گیری ها بدون مشورت با احزاب سیاسی باید صورت گیرد.

**محمدعلم ایزدیار:** به هیچ صورت ازکسی حمایت نمی کنیم که ناقض حقوق بشرباشد،اما وقتی یک شخص به وزارت دفاع رسید بعد از او صدای ازگوشه جهان بلند می شود که این شخص ناقض حقوق بشراست. دید من اینست که این صدا ها غرض آلود است وبرای سبوتاژ کردن است.اسدالله خالد وقتی درغزنی والی بود

یا درکندهار والی بود وبعد درمرکز وظیفه داشت یک شخص موفق بوده است.مردم انتظاردارد که در زیر رهبری اسدالله خالق در اوضاع امنیتی بهبود به وجود آید.جامعه بین المللی و حکومت افغانستان متوجه عواقب این سروصداهای غرض آلود بوده باشند.

**مولوی غلام محی الدین منصف:** اخذویزه درسفارت پاکستان نهایت دشوار شده است مردم سخت به تکلیف مواجه اند پیشنهاد می کنم که باوزارت خارجه صحبت شود که اخذویزه ها به یک شرکت کمیشنکار سپرده شود مانند که مراجعه به سفارت هند ازطریق شرکت کمیشنکاری صورت می گیرد.

**فضل هادي مسلم يار:** آزاد بحث پای ته ورسید په نننی بحث کې څلور اساسي ټکي وولوموي دګاونډيو هيوادونو لاس وهنه او بل د داودزي صاحب دسولي هلي ځلي دي،بل هم د بشردنړیوالوحقونو سازمان څرګندوني دي چي د اسدالله خالد په وړاندي شوي دی له دي سره نه یوازي موافق نه یو بلکې هغه غندو دا بحث له غرض څخه ډک دی څکه چي دوی په تيرو لسو کلونو کې داسي غږ اوچت نکړ خو اوس د اسدالله خالد د شخصيت د بې اعتبارکولو دپاره بولو.

دکورنيو چارو د وزارت لخوا چي کوم لست د مجرمينو خپورشوی ملاتړ يې کوو خو ښه به داوه چي دوی دخپلو اتباعو حرمت دقانون په چوکاټ کې وساتي.څوک چي دعدلي اداري لخوا تورن شوی نه وي او محکمې مجرم نه وي بللي موږ ورته مجرم نشو ويلی هيله مې داده چي عدلي او قضايي ارګانونه پوليس ته حقوقي سلا مشوره ورکړي.

ناامني درشمال خصوصا در جوزجان مربوط به همه ما است چیزی که درتوان من است دریغ نمی کنم وبا وزارت های مربوط تشویش های شمارا شریک می سازم.

له آجنډا سره سم دافغانستان داسلامي جمهوري دولت او دسويس د فدرالي شورا ترمنځ په پرمختيايي چوکاټ د تخنيکي ،مالي،او بشري مرستودهوکړه ليک ولوستل شوه،کميسيون د دريمي مادي د دوهمې او څلورمې فقرې دحق الشرط په اينبودلو سره دا هوکړه ليک د تصديق وړ وبلل.په دوهمه فقره کې د راغلي دي : دايمي ملګرى چي واده ته ورته اړيکه ولري موږ په افغانستان کې داسي څه نه لرو چي په انګليسي کې ورته Girl friend وايي.نو دغه فقره ددینې لحاظه ستونزه لري،موږ نشو کولی چي يوشخص د هغه له Girl friend سره دلته را وغواړو.په څلورمه فقره کې بيا داسي راغلي دي:طفل غیرمتاهل که از همسر وياهمراه دایمی که سن اش کمتر از بیست وپنج سال باشد، دراین نقطه از ۲۵سال به پائین یا ۲۵ سال طفل گفته نمی

شود وقسمت دومش ازهمسراصلی اش باشد ویا از دوست دخترش باشد.

به این اساس درانیجا موافقت نامه را به اسثنی همین دو فقره که در واقع درمغایرت با اصول دین اسلام و قوانین نافذه کشور است با حفظ همین دو حق الشرط ازمجلس می خواهم که سایر مواد موافقت نامه را تصدیق نماید.

**مولوي غلام محی الدین منصف:** قصور دراین مورد بیشتر از وزارت امورخارجه است،درقانون معاهدات بین المللی آمده است که وزارت امور خارجه حین عقد موافقت نامه ها قانون اساسی وشریعت اسلامی را در نظر داشته باشد.درمعاهدات که مشکل ایجاد می شود باید حق الشرط بگذارد متاسفانه که وزارت خارجه چین کاری نکرده بود ودرولسي جرګه هم پیشنهاد کمیسیون امورتقنین نادیده گرفته شده بود،من فکرمی کنم اگر مجلس محترم نظریات کمیسیون امور بین المللی مشرانو جرګه را درنظر بگیرد ګپ خوب است.

**فضل هادي مسلم یار:**اگر باپیشنهاد کمیسیون به شمول حق الشرط موافق استید کارت های سبزتان را بلند کنید.

یک مخالف تصدیق شد.

بیا له آجنډا سره سم د افغانستان داسلامي جمهوري دولت او دعراق دجمهوري دولت ترمنځ دهوایي خدمتونو دهوکړه لیک په تړاو خبرې اترې وشوې په دې هوکړه لیک کې هم دولسي جرګې لخوا یو حق الشرط ایښودل شوی دی هغه د الکولي مشروباتو د اصطلاح په وجه چې په یوه ماده کې کارول شوې ده.

**ډاکټرمحمدعثمان رحماني:** د ۷ مادې په لومړۍ فقره کې داسې راغلي دي:دهرمتعهد لوري هوايي شرکت الوتکه دبین المللی هوایي خدمتونو په عملیاتو کې همدا راز دهغوی د دانجن تجهیزات،پرزې دتیلو ، روغنیاتو،هایدرولیک مایع په ګډون د الوتکې زیرمې،خواړه، مشروبات،تنباکوپلورلو دپاره یا د الوتکې یا دالوتکی د الوتنې پرمهال یا د الوتکی دمسافرو لخوا دکار اخیستلو دپاره نور محصولات دغه شان الوتکه دبل متعهد لورې په قلمرو کې له ټولو ګمرکي حقونو دپلټنې له حق الزحمې او دمواصلت په مهال نورو حقونو او مالیاتو په هغه صورت کې چې دغه شان تجهیزات او تدارکات ترهغه مهاله پورې چې هغوی بیرته خارجیږي یا دهغه لورې په قلمرو کې دترسره شوي سفر په یوه برخه کې یا دهغه په الوتکه کې دننه کارول کیږي معاف دي.

**فوزیه سادات څمکني:** د بین المللي چارو کمیسیون د ولسي جرګې لخوا د حق الشرط ایښودل د هوکړه لیک د لغو په مانا وبلل. نو په دې اساس کمیسیون یاد هوکړه لیک په بشپړ ډول د دواړو هیوادونو په ګټه بولي خودغه شرط

وړاندې کوي چې د افغانستان دهوايي چلند الوتکه اجازه نه لري چې الکولي مشروبات ولیږدوي یايې سرویس کړي همدارنګه عراقي هوايي چلند الوتکه اجازه نه لري چې الکولي مشروبات له الوتکې څخه بهر ولیږدوي.نو د دغو شرطونو په قید سره له عمومي غونډې غوښتنه کوو چې دغه هوکړه لیک تصدیق کړي.

**محمدعلم ایزدیار:** در دو بند آخیر که شما تعدیل اورده اید از دیدمن بایداین متن هم اضافه شود:

طیارات هوانوردی ملکی افغانستان مطابق قوانین نافذه کشور اجازه ندارند که مشروبات الکولي را حمل ونقل وسرویس نمایند.

طیارات شرکت های هوانوردي عراق اجازه ندارند که مشروبات الکولی را از داخل طیاره در قلمرو افغانستان(میادین هوایی افغانستان)ازطیاره خارج کرده نمی تواند.

**فضل هادي مسلم یار:** میرویم به رای گیری، اگربا حق الشرط کمیسیون موافق استید،کارت سبز واگر مخالف استید کارت سرخ.با دورای مخالف موافقت نامه تصدیق شد البته باحفظ حق الشرط کمیسیون.

در روزهای یکشنبه وسه شنبه گزارشات کمیسیون ها استماع می شوند وگزارش هیئت اداری هم تقدیم وارائه خواهد شد.

###